د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا او
درسي کتابونو د تاليف رياست

# د رسامۍ هنر

## دريم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸هـ . ش.

**د پوهنې وزارت**
**د تعلیمي نصاب د پراختیا او**
**درسي کتابونو د تالیف ریاست**

# د رسامۍ هنر

## دریم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۸هـ. ش.

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

## لیکوالان:

۱. محمد ظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر.
۲. سید انور میچن خیل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.

## تایید او مطالعه:

### ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

### د څېړنې او تدقیق کمېټې:

### د علومو اکاډمي:

سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

### کابل پوهنتون:

پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې استاد.

### پوهنې وزارت:

۱. سعدالدین شپون د پوهنې وزارت سلاکار.
۲. سیف الرحمن آشنا د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو ژبې د دیپارتمنت علمي غړی.
۳. نفیسه پوپلزۍ د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړې.
۴. احمد شفیق برنایار د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکی.
۵. بلقیس احمدي د هنرونو د مسلکي لیسې ښوونکې.

### د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټې:

دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلا کار.
محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

### د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:

– دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس

_ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت د کلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پېل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لاربښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوې وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لاربښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پرمختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغاني ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

مونږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر


بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


| عنوان | مخ |
|---|---|
| ۱- ګل | ۱-۲ |
| ۲- آلوبالو | ۳-۴ |
| ۳- دښوونځي وسایل | ۵-٦ |
| ۴- دانسان ظاهرې څیره | ۷-۸ |
| ۵- میوې | ۹-۱۰ |
| ٦- سابه | ۱۱-۱۲ |
| ۷- میوې | ۱۳-۱۴ |
| ۸- کوتره | ۱۵-۱٦ |
| ۹- طوطي | ۱۷-۱۸ |
| ۱۰- د ښوونځي لوازم | ۱۹-۲۰ |
| ۱۱- ټاپه کول | ۲۱-۲۲ |
| ۱۲- د انسان دبدن حرکتونه | ۲۳-۲۴ |
| ۱۳- د یو حیوان لا سي کار | ۲۵-۲٦ |
| ۱۴- د ګازرې ټاپه | ۲۷-۲۸ |
| ۱۵- نوښتګرشکل | ۲۹-۳۰ |
| ۱٦- ډیزاین | ۳۱-۳۲ |
| ۱۷- کورني لوښي | ۳۳-۳۴ |
| ۱۸- کورني شیان رنګه کول | ۳۵-۳٦ |
| ۱۹- د کورنیو لوښو لاسي کار | ۳۷-۳۸ |
| ۲۰- له کاغذ څخه نوښتګر کار | ۳۹-۴۰ |

۲۱- ډيزاين .................................................................... ۴۱-۴۲

۲۲- له ساده موادو څخه دصراحي بشكلي كول .................................. ... ۴۳-۴۴

۲۳- چينجي دپاڼې له پاسه............................................................. ۴۵-۴۶

۲۴- افغاني خولی.................................................................. ۴۷-۴۸

۲۵- د قطار هلكانو لاس كار ........................................................ ۴۹-۵۰

۲۶- د سربښتو جوړول................................................................. ۵۱-۵۲

۲۷- په ورځ كې دي كلي منظره.................................................... ۵۳-۵۴

۲۸- په شپه كې د يوه كلي منظره.................................................... ۵۵-۵۶

۲۹- د رنګونو ترتيب ...................................................................... ۵۷

۳۰- په تاراو رنګ نو ښتګر انځورونه ................................................. ۵۸

## لومړی لوست

# ګل

**موخه:** د موډل له مخې د ګل له رســـمو لوسـره د زده کوونکـــو اشناکول.

پوښتنې:

- د ګلانو د رنګونو نومونه اخیستلی شئ؟
- له ګل څخه څــــــه ګټه اخیستل کېږي؟





فعالیتونه: زده کوونکي دې پورتنی شکل له اساساتو سره سم انځور کړي اوپه خپله خوښه دې رنګه کړي.



ګران ښوونکی دې پورتنی شکل د هغه له اساساتو سره سم د ټولګي په توره دړه رسم کړي چې زده کوونکي د هغه د رسمولو په طریقه پوه شي.د رنګه کولو په وخت کې دې له دوی سره مرسته وکړي.



کورنۍ دنده:هرډول ګل موچې خوښېږي انځورېي کړئ!


## دويم لوست

# آلوبالو

**موخه**: د آلوبالو د انځور پرداز او د هغه له رنګه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

پوښتنې:

- دآلوبالو اونورو مېوورنګو نه څه توپیـــرسره لري؟
- دآلوبالو مـــېوه او دهغه پاڼې کوم رنګونه لـــري؟





فعالیتونه: زده کوونکي دې د آلوبالو شکل ته په ځیروګوري او د هغه باندیني خطونه دې د تورې درې له مخې رسم او بیا دې دکتاب له مخې هغه ته پرداز ورکړي او رنګه دې کړي.



ګران ښوونکی دې دآلوبالو شکل د هغه له ډکي سره یو ځای د ټولګي په توره دړه په ساده خطونو انځور کړي اوپورتنی فعالیت دې په زده‌کوونکو سرته ورسوي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپل چاپېر یال کې د آلوبالو یوه پاڼه رسم او ټولګي ته راوړي.


## دریم لوست


# د ښوونځي وسایل

**موخه:** دښوونځي د وسایلو له رسمولو او رنګه کولو سره د زده‌کوونکوآشنا کېدل.


**پوښتنې:**

- د ښوونځي د وسایلو په هکله څه ویلی شئ؟
- په لاندې شکل کې څوډوله رنګو نه لیدل کېږي؟





فعالیتونه: زده کوونکي دې په ډلو وویــشل شــي اود ښــوونځي د وسايلو په هکله دې وغږېږي او پورتنی شکل دې دکتاب له مخــې رسم او رنګه کړي.



ګران ښوونکی دې د زده‌کوونکوانځورونه همېشه په پام کې ولري اود کتابچو په یوه څنده کې دې ددوی انځورونه اصلاح کړي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دکورنۍ له غړو سره د ښوونځي په شیانووغږېږي او خپل معلومات دې بشپړ کړي.


# څلورم لوست

# د انسان د څېره ې رسمول

**موخه**: په بیضوي شکل کې دننه د انسان دپورتریت (څیرې) له رسمولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول

پوښتنې:

- په لاندې شکل کې د بدن کوم غړي لیـــدلی شئ؟
- آیا د رسم شــــــــووغړو په ارزښت پوهـــېږئ؟





فعالیتونه: زده کوونکي دې د ټولګي د تورې درې له مخې د انسان ځېره انځور کړي.



ګران ښوونکی دې دانسان ځېره دټولګي په توره دړه انځور کړي. د زده‌کوونکو له ځوابونو وروسته له سوالونو سم ځوابو نه ورته ووایي او د رسم کولو په وخت دې ورسره مرسته وکړي.



کورنۍ دنده: دانسان ځېره رسم کړئ!


# پنځم لوست

## مېوې

**موخه:** دڅوډوله مېووله انځورولوسره د زده‌کوونکو اشنا کول.

پوښتنې:

- په لاندیني شکل کې کوم ډول مېوې لیدلی شـــئ؟
- لاندیني شـــکلونه کـــوم کـــوم رنګـــونه لـــري ؟





**فعالیتونه: زده کوونکي دې پورته شکل انځور ا و رنګه کړي.**



**ګرانه ښوونکیه: پورتنی شکل دټو لګي په توره دړه رسم کړه اود رنګه کولو پــه وخت کې له دوی سره مرسته وکړه!**



**کورنۍ دنده: هره مېوه چې مو خوښېږي رسم یې کړئ**

## شپږم لوست

# سابه

**موخه**: د موډل له مخې د سبو له رسمولو، پرداز او رنګه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

**د سبو په هـــکـــله معـــلومات وړاندې کولی شئ؟**
**آیا پوهېږئ چې له سبو څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟**





فعالیتونه: زده کوونکي دې څو ډوله سابه له ځان سره راوړي او د موډل شکل دې یو لوړ ځا ی کې کېږدي او د هغو له مخې دې په ساده خطو رسم و کاږي او بیا دې رنګه کړي.



ښوونکی دې پورتنی فعالیت په زده‌کوونکو سرته ورسوي او د کتا بچو په څنګه کې دې د دوی رسمونه اصلاح کړي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې سابه د هغو له پا ڼو سره یو ځای رسم اوټولګي ته راوړي.

# اووم لوست


# مېوې

**موخه**: د مېوو رسمول، پرداز او د هغــو لــه رنګــه کولوســره د زده‌کوونکو آشنا کول.

**د مېوو په هکله څــه ويــلی شــئ؟**

**څــو ډولــه مــېــوې پــــېژنئ؟**

**آيا د ناکو خوړل د روغتيا لپاره ګټــور دي؟**





فعالیتونه: زده کوونکي دې په ګروپو نوووېشل شي او دمېوو په اړ وند دې خبرې اترې وکړي اوبیادې پورتنیﯼمېوې انځور، پرداز اورنګه کړي.



ګرانه ښوونکیه! پورتنۍ مېوې په ساده خطونو دټولګي پر توره دړه رسم کړه او زده کوونکي د هغه په رسمولو، پرداز او رنګه کولو وګو ماره او له پوښتنو سم ځوابونه دوی ته ووایاست!



کورنۍ دنده: پورتنی فعالیت یوځل بیا په کورکې سرته ورسوئ او ټولګي ته یې راوړئ!

## اتم لوست

# کوتره

**موخه:** دکوترې له رسمولو سره د زده‌کوونکو آشناکول.

کوتره دڅـــه شي پیغـــام را وړونکـــي ده؟

په کو تره کې کـــوم رنګونه لیدل کېږي؟





فعالیتونه: زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او دکوترې په اړه دې سره وغږیږي وروسته دې د تورې دړې له مخې هغه رسم او لوست دې دکتاب له مخې رنګه کړي.



ګران ښوونکی دې دټو لګي په توره دړه کوتره رسم کړي او دپوښتنو ځوابونه دي دوی ته ووایي او پورتنی فعالیت دې پرې سرته ورسوي.



کورنۍ دنده: پورتنی رسم یوځل بیا په کور کې رسم او رنګه کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!

# نهم لوست

# طوطي

**موخه:** دطوطي له رسمولو اورنګه کولوسره د زده‌کوونکوآشنا کول.

په لاندې شکل کې کوم رنګونه ليدل کيږي؟

د طوطي د ساتلو په هکله مو څه زده دي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې طوطي د لوست د کتاب له مخې رسم او رنګه کړي.



ګران ښوونکی دې دټولګي په توره دړه یوطوطي انځور کړي او درنګه کولو مهارت دې زده‌کوونکو ته ورزده کړي.



**کورنۍ دنده:**زده کوونکي دې په کورکې یوځل بیا **دغه** طوطي رسم او رنګه کړي او ټولګي ته دې راوړي.

## لسم لوست


# د کور رنګه کول

**موخه:** د کور د سيورې او روښنايي له انځوروڵو سره د زده‌کوونکو اشناکول.

ستاسې د کور په انګړ کې کوم ډول مېـــــو ې شـــته؟

آياپوهېږئ چې په خپل کور کې له چا سره ژوندکوئ؟





**فعالیتونه:** زده کوونکی دې دپورته شکل په شان کورد سیوری اوروښنایي سره رسم کړي او هغه ته دې رنګه پرداز ورکړي.



**ښوونکو ته لارښوونه:** دپورتني شکل باندیني خطونه په توره دړه رسم کړئ او وروسته زده کوونکي و هڅوئ چې درسم کولو په وخت کې له پوره پاملرنې څخه کار واخلي او رسمونه یې اصلاح کړي.



**کورنۍ دنده:** خپل کور رسم کړئ او هغه ته سیو ری اوروښنایي ورکړئ.


# یوولسم لوست


# ټاپه کول

**موخه**: دلیږو ( ببنډی ) له ټاپې سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

آ یا دټاپه کولو اړه څه پو هیږئ؟

په ټاپه کولوکې له کومو موادو او رنګونو څخه ګټه اخلئ؟





**فعالیتونه**: هر زده کوونکی دې یوه بېنډۍ (لبړو)له ځانه سره ټولګي ته راوړي او په منځ کې دې په چاقو پرې کړي،بیادې هغه په رنګ ککړه کړي او په یوه سپین کاغذ دې ټاپه کړي  تر څو یو نوی شکل مینځ ته راشي.



ګران ښوونکي دې دهر زده کوونکي کار تر پاملرنې لاندې ونیسي او پورتنی فعالیت دې په زدکوونکوسر ته ورسوي او زده کوونکي دې نوښتګرو انځورونو ته وهڅوي.



کورنۍ دنده: په خپله خوښه  له یوه شي څخه په سپین کاغذ ټاپه کاري وکړئ!

## دولسم لوست

# د انسان دبدن حرکتونه

**موخه:** دانسان دبدن دحرکتونو له انځورولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.


دانسان کوم حرکت موخوبش دی چې رسم یې کړئ؟

دبدني روزنې کـــوم حرکت ســـــــرته رسولی شئ؟





**فعالیتونه**: زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې په خپله خوښه دانسان د بدن یو حرکت رسم کړي او نوروډلوته دې وروښيي.



ګران ښوونکي دې د انسان دحرکتونو د رسمولو په وخت کې د زده‌کوونکو رسمونه تر نظرلاندې ونیسي او دانسان دبدن دحرکت په هکله دې دوی ته معلومات ورکړي او پورتنی فعالیت دې پرې سرته ورسوي.


## دیار لسم لوست

# د یوه حیوان لاسي کار

**موخه:** له ختې یا نـورو موادوڅخـه د یـوه حیـوان لـه جوړولوسـره د زده‌کوونکوآشنا کول.


له ختې څخه کوم شیان جوړولی شـئ؟

د لاندې شکل په اړه څه پوهېږئ؟





**فعالیتونه**:زده کوونکي دې د موډل له مخې لاسي کار جوړ او رنګه کړي.



ګرانه ښوونکیه: له پورتني رسم څخه یو موډل جوړ کړه اود مېز په سریې کېږده او زده کوونکي یې جوړلو ته وهڅوه!



کورنۍ دنده: په خپله خوښه یولاسي کار جوړ کړئ او ټولګې ته یې راوړئ!

# څوارلسم لوست

# دګازرې ټاپه

**موخه**:  د ښکلي کولو لپاره د غوڅې شوې ګازرې له ټاپه کولوســـره د زده‌کوونکو آشناکول.

دښکلې کولو لپاره دګازرې له ټاپې څخه څه ډول ګټه اخیستلی شئ؟
له ګازرې پرته نور له کومو موادو څخه دښکلا لپاره ګټه اخیستل کیږي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هر ه ډله دې په خپلــه خوښه له غوڅې شوې ګازرې څخه نوښتګر شکلونه جوړکړي او هغــه دې د څنډو دښکلا لپاره وکاروي.



ګران ښوونکي دې دټاپه کولو په وخت کې له هرې ډلې ســـره مرســـته وکړي ددوی نوښتګر اســـتعدادونه دې وهڅـــوي او کارونـــه دې یـــې وارزوي.



کورنۍ دنده: د زده کوونکوپه خوښه دې ټاپه تمرین شي.

## پنځلسم لوست

# نو ښتګر شکل

**موخه:** درنګ دپوکولو په واسطه دنوښتګر شکل له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

درنګ په پوکولو کوم شکلونه جوړولی شي؟
دځه شي په واســـطه رنـــګ پو کـــولی شـــي؟





**فعالیتونه**: د نوښتګرو شکلونو دجوړولو لپاره یوه اندازه رنګ په یوه سپین کاغذواچوئ او هغه داسې پوکړئ چې یو نوښتګرشکل ترې جوړشي. دا کار باید زده کوونکي په خپله خوښه سرته ورسوي.



ګران ښوونکي دې د پوکولو سمه لاره زده‌کوونکو ته ور زده کړي او د نوښتګروشکلونو په جوړولو کې دې و رسره مرسته وکړي.



کورنۍ دنده:څو شکلونه درنګ او پوکولو په واسطه جوړکړئ!


## شپاړسم لوست

# ډیزاین

**موخه:** دډیزاینونو له انځورولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

د کومو شیانو لپاره له ډیزاین نه ګټه اخلئ؟

کوم ډیزاینونه موخوښ دي؟






فعالیتونه: زده کوونکي دې لومړی پر پنسل باندې پورتنی ډیزاین رسم کړي اوبیا دې هغه په مویک (برس) او رنګ رنګه کړي.



ګران ښوونکي دې: پورتنی ډیزاین د زده‌کوونکوپه مخ کې رسم او رنګه کړي ترڅودوی درسم کولواو رنګه کولو په سمه طریقه پوه شي.



کورنۍ دنده: په خپله خوښه یو ډیزاین رسم کړئ!

## اووه لسم لوست

# كورني لوښي

**موخه:** دكورنيو لوښو له رسمولو سره د زده‌كوونكو آشناكول.

لاندې شـــكلونه دڅه شـــي دي نـــومونه يي واخلـــىء؟
پوهېږئ چې له لاندې شكلوڅخه څه ګټه اخيستل كېږي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې پورتني شکلونه دټولګي له تورې دړې څخه رسم کړي او و دې هڅول شي چې له یوبل سره رغنده سیالي وکړي.



ګران ښوونکی دې پورتنی شکل پر توره دړه رسم کړي او زده کوونکي دې داسې وروزي چې درسم کولوپه وخت کې زحمت وباسي چې ښکلی انځوروکارېي اود دوی رسمونه دکتابچې په یوه څنډه کې اصلاح کړي.



کورنی دنده: نه کورنیو شیانو نه یو په خپله خوښه رسم اوټولګي ته راوړئ!

## اتلسم لوست

# دکورنیو لوښو رنګه کول

**موخه:** دکورنیو شیانو له رسمولو اورنګه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.


دلاندې شیانو په کارولـــو پو هـــېږئ؟

لاندې شیان له څه شي څخه جوړېږي؟





فعالیتونه: د امکان په صورت کې پورتني شیان له کوره راوړئ او د مېز په سر یې کېږدئ او مخامخ دموډل له مخې د هغوی باندیني خطونه هم دموډل او هم د تورې دړې له مخې رسم او رنګه کړئ.



ګرانه ښوونکیه: هنري مضمونونه ستاسې له تشویق او هڅونې پرته ښه نتیجه نه شي لرلی نوځکه باید د زده‌کوونکو هڅو اوهاند ته وده ورکړئ د کور شیان دټولګي پر توره دړه رسم کړئ او پورتنی فعالیت په دوی سرته ورسوئ!



کورنۍ دنده: له کور نیو لوښو څخه یو په خپله خوښه رسم کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!

## نولسم لوست

# دکور نیو لوبښو لا سي کار

**موخه**: دکورنیولوبښو له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.


له کورنیو لوښــو څخه کوم شـــی په لاس جوړولی شئ؟

له لاندې شـــکلونونه څه ګټه اخـــــیستل کـــېږي؟





**فعالیتونه**: زده کوونکي دې لوښي په ځیر سره وګوري اوبیا دې له ختې
اویا نورو هغو موادو څخه چې په  واک کې یې لري د هغو په جوړولو
پیل و کړي تر جوړیدو وروسته دې  هغه ر نګه کړي.



ګران ښوونکي دې دلاسي کار په جوړولو کې له زده‌کوونکوسره همکاري
وکړي. ګرانه ښوونکیه ستا سې پاملرنه او هڅونه  ددوی دبریا لیتوب
سبب ګرځي!



کورنۍ دنده: له کور دلوښو څخه یولوښی جوړکړئ او ټولګې ته
یې راوړئ.

شلم لوست

# له کاغذخخه نوښت لرونکی کار

**موخه:** پر کاغذباندې له نوښت لرونکي کار سره د زده‌کوونکو بلدیدل.

له کاغـــذخخه کـــوم شـــیان جـــوړولی شئ؟

له کاغذ خخه مو کله لاسي کارجوړکړی دی؟





**فعالیتونه**: زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او پورتنی لاسي کار دې جوړ کړي.



ګران ښوونکی دې دپورته پوښتنو سم ځوابونه زده‌کوونکوته ووايي وروسته دې پورتنی فعالیت پرې سرته ورسوي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپله خوښه یولاسي شی جوړ کړي.


## یوویشتم لوست

# ډیزاین

**موخه:** د ډیزاین له رنګه کولو او پرداز ورکولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

له لاندې شکل څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟

څـــــه ډول ډیـــزاینـــونه مـــولیـــدلـــي دي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې پورتنی شکل دټولګي له تورې درې څخه رسم او بیا دې هغه درنګ په واسطه ډیزاین او په رنګ دې پرداز ورکړي.



ګران ښوونکي دې زده کوونکي رغنده سیالیو ته و هڅـــوي، پـــورتنی شکل دې د ټولکي پر توره دړه رسم او پورتنی فعالیـــت دې پـــر دوی باندې سرته ورسوي.



کورنی دنده: یوډیزاین رسم او رنګه کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!

## دوه ویشتم لوست

# د صراحي ښکلې کول

**موخه:** له ساده موادو څخه د صراحي له ښکلې کولو سره د زده‌کوونکو اشنا کېدل.

صراحي ته په کومو شیانو ښکلاورکولی شـــئ؟
له صراحي څـــخه څه ګټه اخیســـتل کـــېږي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او صراحي دې په ساده رنګونو ښکلې کړي.



ګران ښوونکی دې دپوښتنو له ځوابو نو وروسته سم ځوابونه زده کوونکو ته ووايي او پورتنی فعالیت دې په دوی باندي سرته ورسوي.



**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې له پلاراو مور سره دپورته پوښتنو په هکله خبرې وکړي او سباته دې په ټولګي کې پرې وغږ يږي.

## درویشتم لوست

# دوربښموچینجی له پاڼې دپاسه

موخه: په ساده خطو نو او پرداز د ونې د پاڼې لــه پاســه د خزنــدې د رسمولوسره د زده‌کوونکو آشنا کول.

لاندي رســــم شــوې خزنده کوم ډول خزنــده ده؟
دپاڼې او خزندې رنګونه سره یوشان دي او که توپیر لري؟
له رسم شوې خزندې څخه څه ګــټه اخــیستله کېــږي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او دوربېنمو دچينجي په هکله دې سره و غږېږي او وروسته له هغې دې دټولګي د تورې دړې له مخې دوربېنمو چينجی د پاڼې له پاسه رسم او رنګه کړي.



ګرانو ښوونکو! دوربېنمو دچينجي اود هغه دخوراکي موادو او ګټو په باب زده‌کوونکو ته پوره پوره معلومات ورکړئ او وروسته له هغې دټولګي پر توره دړه دوربېنمو چينجی دپاڼې له پاسه په ساده خطونو او پرداز سره رسم او پورتنی فعالیت پر دوی باندې سرته ورسوئ.



کورنۍ دنده: دوربېنمو چينجی له پاڼې دپاسه رسم او ټولګي ته راوړي او دښوونکي له نظره يې تېر کړئ!

## ثلېر ویشتم لوست

# افغاني خولۍ

**موخه:** د افغانیو کالیو، دود او دستور د انځورولو سره آشنا کیدل.

آیا پوهیږی چې په لاندې شکل کې کوم مواد په کار وړل شوي دي ؟

د افغانانو کوم دول خولۍ مو خوښه ده؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او دافغانانو د دود، دستور، او کالیوپه هکله دې سره وغږیږي. وروسته دې پورتنۍ شکل دټولګي د تورې دړې له مخې رسم او رنګه کړي.



ګران ښوونکی دې: د افغاني کلتور او فرهنګ په اړه زده‌کوونکو ته پوره پوره معلومات ورکړي او پورتنۍ شکل دې په آزادو خطونو دټولګي پـــه توره تخته رسم کړي .



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې یوه خولۍ رسم کړي او درسم په ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.


## پنځه ویشتم لوست

# د قطار هلکانو لاسي کار

**موخه:** د سرړيو د کتار په اړوند د کاغذ له قات او بیاتي کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

لاندینی شکل څه ډول جوړشوی دی؟

دلاندیني شکل دښکلا لپاره له کومو رنګونوڅخه ګټه اخلئ؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې یو کاغذ څو ځلي قات کړي اوپه لومړي قات دې یو سړی رسم کړي او بیا دې هغه بیاتي کړي چې څو سړي به لاس ته راشي. وروسته يي په بېلو بېلو رنګونو رنګه کړئ.



ګران ښوونکی دې دشکلونو دجوړولو او رنګه کولو په وخت کې له زده‌کوونکو سره مرسته وکړي .



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دکورنۍ د غړوپه مرسته یولاسي شی جوړکړي اوټولګي ته دې راوړي.

# شپږ ویشتم لوست

# ســــریـــښ

**موخه:** له طبیعي موادو او د ونو د کنډ څخه د سریښو له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

سریښ د کومو شیانو څخه جوړولی شئ؟
سریښ د څه لپاره پکاریږي؟





**فعالیتونه:** زده کوونکي دې په ګروپونو ووېشل شي، د هغو موادو په هکله دې سره خبرې وکړي کوم چې سریـــښ ور څخه جوړېږي او دې عملاً له ونو څخه کنډراټول کړي او له ونو څخه کنډه راټول کړي او په کار دې پیل وکړي او سریښ دې جوړ کړي.



ګران ښوونکی دې د پوښتنوله ځوابونو څخه وروسته دهغو سم ځوابونه زده‌کوونکوته ووایي او دسریښوپه جوړولو کې دې د دوی سره مرسته وکړي.

## اووه و یشتم لوست

# په ورځ کې د یوه کلي منظره

**موخه:** په ورځ کې د یوه کلي د منظرې لـــه انځـــور ولـــو ســـره د زده‌کوونکو بلدیدل.

د کلي په شاو خوا کې څه شی تر سترګو کېږي؟
د کلي په منظره کې کوم رنګونه لیـــدلـــی شئ؟





**فعالیتونه**: زده کوونکي دې له ټولګي څخه ووځي او دیوه کلي منظره دې له کلي څخه مخامخ رسم او رنګه دې کړي.



ګران ښوونکی دې د پوښتنو سم ځوابونه زده‌کوونکوته ووایي او پورتنی فعالیت دې پر دوی باندې سرته ورسوي او د دوی رسمونه دې وارزوي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د کلي پر بېلو بېلو رنګونو باندې له خپلو خپلوانو سره خبرې اترې وکړي او خپل را ټول شوي معلو مات دې په ټولګي کې بیان کړي.

## اته ويشتم لوست

# په شپه کې ديوه کلي منظره

**موخه:** په شپه کې ديوه کلي دمنظرې له انځورولو او رنګه کولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

په شپه کې ديوه کلي منظره څه ډول ښکاري؟

په شپه کې دکلي منظره په کومو رنګونو انځورېږي؟





**فعالیتونه**: زده کوونکي دې پورتنی انځور دکتاب له مخې رسم او رنګه کړي او دشپې رنګونه دې په هغه کې په سمه توګه وښيي.



ګران ښوونکی دې: دشپې درنګونو په اړوند زده‌کوونکو  ته معلومات وړاندې کړي او پورتنی فعالیت دې پر دوی باندې سرته ورسوي.



کورنۍ دنده: پورتنۍ انځور دې زده کوونکي یوځل بیا په کور کې انځور کړي.

.


## نهم ویشتم لوست


# درنګونو ترکیب (ګډول)


**موخه:** درنګونوترکیب سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

درنګ له ترکیب سره مینه لرئ؟

آیا د دوو رنګونو له ګډولو څخه بل رنګ جوړولی شئ؟







**فعالیتونه**: زده کوونکي دې د رنګ او ترکیب په هکله سره و غږېږي او وروسته دې په خپلو کتابچوکې رنګونه یو له بل سره ګډ کړي.



ګران ښوونکی دې پورتنی فعالیت په سمه توګه په زده‌کوونکو سرته ورسوي اود دوی په کتابچوکې دې په عملي توګه رنګونه ترکیب(ګډ) کړي او په دې هکله دې دوی ته معلومات ورکړي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې رنګونه په خپل کورکې سره ترکیب کړي.


## دیرشم لوست


# په تاراو رنګ نوښتګر انځورونه


**موخه:** پر تار اورنګ باندې له نوښتګرو انځورونو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

پر تاراو رنګ باندې مــو انځــور ګري کړې ده؟

پرتار او رنګ باندې څه ډول شکلونه انځورېږي؟








**فعالیتونه**: زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي. دنوښتګر و انځور ونو پــه هکله دې خبرې وکړي او خپل معلومات دې له نورو ډلو سره شریک کړي. وروسته له هغه دې د تاراو رنګ په واسطه نوښتګر انځورونه جوړ کړي.



ګران ښوونکی دې پورتنی شکل دتار او رنګ په واسطه د زده‌کوونکو په مخ کې جوړ کړي دا کار دې له لاندې لارښوونې سره سم سرته ورسوي. تاردې په رنګ ککړ کړي او دکتابچې په مینځ یا د دووسپینو کاغذوترمینځ کېږدي.کتابچه او یا پاڼې یوپربل واړوئ او دتار یوسر دې له کتابچې وباسئ او کش دې کړي ترڅو ټول تار را ووځي نووبه ګوري چې د یوه نوښتګر شکل انځور جوړشوی دی.



درسي كتابونه د پوهني په وزارت پوري اړه لري.
په بازار كي يې اخيستنه او خرڅونه په كلكه منع
ده. له سرغړونكو سره قانوني چلند كېږي.

كمپوز او ډیزاین: رحمت الله غفاري

د كتاب د استهلاک دوره (۳) كاله.